پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۸/۱۷

د خوشحال په دستارنامه کې فارسي کلام

د خوشحال خان ختک آثار

خوشحال پوهنه

۳۰

د خوشحال ژوند لیک، ژوند پېښې، آثار او اشعار د دې گواهي ورکوي چې خوشحال د مطالعې ډېر قوي بگروند درلود او د خپل وخت پر څلورو ژبو داسې پوهیده چې له خبرو سربیره، لوستل او لیکل یې هم پرې کولای شول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د خوشحال پوهنې د مقالو په اوه ویشتمه (۲۷) برخه کې ما په لنډ ډول لیکلي و چې خوشحال په کومو ژبو پوهیده او بیا مې د فراقنامې له مقدمې نه د استاد پوهاند میرحسن شاه هغه نظر را اخیستی و چې هغه د خوشحال د فارسي کلام او په تیره په دستار نامه کې د راغلو فارسي بیتونو په باب اشاره کړې وه. دلته یې هم د موضوع په ارتباط اړینه ده چې یو ځل بیا را نقل کړم:

«د خوشال آثارو ته چې پام وشي هر لوستونکی پوهیږي چې خوشال په څلور ژبو پوهیده:

پښتو (مورنی ژبه یې وه)،

دري (اشعار یې په کې ویلي دي)،

عربي (دوه کتابونه پښتو ته ژباړلي دي)،

اوهندي.

ده په خپلو آثارو په تیره دستارنامه کې څلورو واړه یادې ژبې کارولې دي.
استاد پوهاند میرحسین شاه د خوشال د پوهې او مالوماتو په باب د خوشال د فراقنامې په یوه چاپي مقدمه کې داسې لیکلي دي:

«... باین ترتیب خوشحال خان را نه تنها باید شاعر بزرگ شمرد و به زبان پښتو منحصر دانست. راست است که غالب آثارش را به پښتو نوشته و کلیات اشعارش به این زبان میباشد، اما حتی در دیوان او میتوان اشعار نغز دري، که از خود اوست، یافت. و در آثار دیگر وي، به خصوص دستارنامه نقل قول های از شعرای بزرگ زبان دري و کلام بزرگان عرب یافت. تردیدي نیست که خوشحال خان از ادبیات دري بهره کافي داشت و به زبان و ادبیات عرب آشنا بود. وسعت معلومات وي در علوم اسلامي از آثارش روشن است...»
(ختک خوشحال خان، فراقنامه، د راحت زاخیلي د زوکړې د سلمې کلیزې په ویاړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د پوهاند میرحسین شاه مقدمه، هـ ـ و مخونه)

د خوشحال پر ټول فارسي کلام باندې څه لیکل یوه جلا موضوع ده چې بل وخت ته یې پرېږدم، خو د اوس له پاره په دې مقاله کې یوازې د خوشحال په «دستارنامه» کې پر راوړل شوو فارسي بیتونو لنډې خبرې کوم، لنډې ځکه چې دا کار په ډېر عالمانه او مفصل ډول پیاوړي ځیړونکي استاد معصوم هوتک تر سره کړی دی او د کتاب په بڼه یې د **«د خوشحال خان ختک په دستار نامه کې فارسي کلام د چا دی؟»** تر سر لیک لاندې په ۱۳۹۵ ل کال چاپ کړی دی.

استاد هوتک د خپل یاد کتاب له پاره یوه لنډه مقدمه هم لیکلې ده او د خوشحال، د هغه د دستار نامې او په دستار نامې کې د راوړل شوي فارسي کلام په باب غږیدلی دی، د دې موضوع پر تر سره شوو کارونو باندې یې رڼا اچولې ده چې زما له پاره ډېر نوي او تازه مالومات په کې موجود دي.

څنګه چې بحث پر خوشحال او د هغه پر دستار نامه باندې را څرخي، بې ځایه به نه وي چې د موضوع د لا رو ښانتیا په غرض د استاد هوتک د مقدمې ځینې برخې را واخستل شي. ښاغلي هوتک په عالمانه ډول د موضوع د پسمنظر په باب رڼا اچولې ده او دا یې ښوولي دي چې پر دې موضوع باندې تر ده پخوا چا، څومره او څه ډول کار کړی و او ده څه، څومره ور اضافه کړل:«

د لوی څښتن په نامه

د خوشحال خان ختک (۱۰۲۲ـ ۱۱۰۰ هـ ق) په آثارو کې (دستارنامه) هغه دروند اثر دئ چې خان د رنتنبور په زندان کې په (۱۰۷۶ هـ ـ.ق) کال کښلی د ئ. که څوك غواړي د خوشحال خان د علمي شخصیت اندازه ځان ته معلومه کړي، نو دستارنامه ورسره بیخي ډېره مرسته کولای سي. یو څوك چې د بند او زندان په تیاره ماحول کې، له خپل کور، کتاب او کتابتون څخه په فرسخو لیري پروت وي او له حافظې څخه دي د خپل عصر په لسو نایابو او نادرو تاریخي او ادبي کتابو ته حوالې ورکوي، داسې چا ته له نابغه پرته بل نوم ورکول بې انصافي ده.
دا کتاب څو واره په کابل او پېښور کې چاپ سوی دئ. زموږ د هیواد مشرانو پوهانو د دغه اثر د پېژندنې او اهمیت په باب پر خپل وخت و زمان لیکنې کړي دي. د چاپي نسخو په باب ئې د دې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قلم څښتن هم د متنپوهني په رونا کي لږ و ډېري هڅي کړي دي. په دې حاضره رساله ګوتې کي غواړم په دغه ارزښتناك اثر کي د راغلي فارسي کلام ماخذونه د خپلو میسرو امکاناتو په چوکاټ کي وڅېړم. دا چې ولې مي د دې کار د سرته رسولو اراده وکړه؟ کیسه ئي داسي ده:
ما چې د خپل کتاب (پښتو متون سمېدل غواړي) د دوهم ټوك له پاره د پېښور چاپ پر دستارنامو کار کاوه، نو په ذهن کي مي د محترم استاد پوهاند میرحسین شاه هغه مقاله راوګرځیده، چې د (مأخذ اشعار دری دستارنامه) تر نامه لاندې کښلې وه. دغه راز مي د خپل استاد علامه پوهاند عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰ـ ۱۳۸۳ هـ ش) څېړني هم ذهن ته راغلې چې په (لس مقالې) نومي اثر کي ئي خپرې کړې وې. د استاد پوهاند میر حسین شاه یاده سوې مقاله په دغه وخت کي راسره نه وه، خو یو وخت مي لوستلې وه. له ځانه سره مي و پټېله چې د دستارنامې فارسي اشعار به نور هم څېړم. کار مي شروع کړ او د خپلو امکاناتو په محدوده کي مي پای ته ورساوه. د سږکال (۲۰۱۶ ع) په اګست میاشت کي مي له ګران خلیل جان سروري سره په تیلفوني خبرو کي د خپلې دغې څېړني یادونه وکړه. ده راته وویل چې ښاغلي عبدالقیوم زاهد مشواني په دې باب یوه څېړنه کړې او خپره کړې ده. خلیل جان دې خیر یوسي، په دا سبا ئي دغه څېړنه سکېن کړې د ایمیل له لاري راواستوله. څېړنه چې مي په لومړي نظر وکتله، خپل کار راته (تحصیل حاصل) ښکاره سو، خو کله چې مي سمه ولوستله، نو د خپل کار پر کولو ئي پښیمانه نه کړم.
د ښاغلي زاهدمشواني څېړنه په مجموع کي د دستارنامې په باب هر اړخیزه ده، خو په هغې کي د راغلي فارسي کلام په پېژندنه کي مستوفا نه ده. ځای، ځای خو لا داسي هم پېښه سوې ده چې د پوهاند میرحسین شاه د مقالې مطالب ئي کټ مټ، بې له دې چې خبره دې نوره هم پسې وڅېړي، را کاپي کړي دي او په دې ترڅ کي ئي هغه طباعتي تېروتني تکرار کړي دي چې د پوهاند صاحب په لیکنه کي د چاپ او کاپۍ اخیستلو پر وخت پېښي سوي دي.
په دستارنامه کي د فارسي کلام زیات و کم ۱۴۷ ځایه ما شمېرلي دي. په دې کي پوهاند میر حسین شاه درو څلوېښت مورده څېړلي دي چې په دې حساب ئي د دستارنامې د فارسي کلام څه کم دېرش فیصده ماخذونه موږ ته راښوولي دي. ښاغلي زاهد مشواني دو شپېته ځایه شعرونه څېړلي دي چې دې کي د پوهاند میر حسین شاه ۴۳ ځایه هم شامل دي. په دې ډول ئي د دستارنامې د فارسي کلام د ماخذو په ښوولو کي نولس ځایه نور ور زیات کړ ي او فیصدي ئي نژدې ۴۳٪ ته لوړه کړې ده. خو ما د فارسي کلام د یوسل ځلیرویشتو ځایونو ماخذونه ښوولي دي چې په دې کي مي د پوهاند میر حسین شاه او ښاغلي زاهد مشواني پر دوشپېته ماخذو باندې نور دوشپېته ماخذه هم ورزیات کړل او اوس موږ ته د دستارنامې د فارسي کلام نزدې ۸۵٪ ماخذونه معلوم سول. پاته درویشت ځایونه چې د ټول کتاب ۱۵٪ فارسي کلام په ځان کي راکښیباسي، د راتلونکو څېړونکو د څېړنو انتظار باسي. د ماخذو په پېژندنه کي ما له یوڅه تفصیله کار اخیستی دئ او ځای، ځای مي د پوهاند میرحسین شاه او ښاغلي زاهد مشواني څېړني نوري هم پسې شنلي دي او بل مي هیڅ بیت، مصراع، فرد، قطعه، رباعي او مثنوي بې تبصرې پرې ایښې نه د ئ. که مي هیڅ هم نه پر درلودل، نو دونده (دومره) قدر خومي ورته کښلي دي چې"نور تحقیق غواړي". د ماخذو په ښوولو کي مي یوازې دهغه د نوم، مخ، چاپکال او چاپځای په راوړلو بسنه نه ده کړې، بلکي د هماغه ټاکلي نظم، او حکایت د سر بیت او جمله مي هم راوړې ده. دا کار د نورو څېړونکو کار ور اسانه کوي او له سرګردانۍ ئي راګرځوي. د پوهاند میر حسین شاه او زاهد مشواني له خوا ښوول سوي ماخذونه مي کتلي دي او که مي په ثبت کي توپیر موندلی دئ، هماغه توپیري شکل مي ئي هم را اخیستی دئ. دغه راز مي د امکان تر اندازې پوري د نورو ملاتړو ماخذونو تلاښ هم کړی دئ. د ماخذو د موندلو په چاره کي مي د اوسنۍ زمانې له ټکنالوژۍ څخه تر خپله وسه وسه استفاده کړې ده. ما زیاتره هغه ماخذونه (دیوانونه، د شاعرانو نور تالیفات او کتابونه،...) چې پخپل کتابتون کي مي نه درلودل، د انترنیټ په مرسته موندلي او د هغو پي دي ایف (pdf) کاپي مې کتلي دي. د دغو کاپیو په لوستلو کي مې زیاتره د "ګنجور" په نامه انټرنیټي کتابتون څخه استفاده کړې ده. په دغه کتابتون کي د فارسي کلاسیك ادب زیاتره مشهور دېوانونه او شعري مجموعې پرتې دي. انټرنیټ نن د یوه نړیوال کتابتون حیثیت لري خو په هغه کي د مطلب ټکي پیدا کول هم څه اسانه کار نه دئ او زیاته پلټنه غواړي...»

د خوشحال په دستارنامه کي د راوړل شوي فارسي کلام څېړنه استاد هوتک په منظم ډول تر سره کړې ده. له مقدمې نه یې پیل کړې ده، بیا فصلونه، بیا یو په یو هنرونه او خصلتونه او بیا خاتمه. د هغو اشعارو او بیتونو مآخذونه یې چې پیدا کړي دي، په دقیق ډول یې ښوولي چې د چا دي او د هغو شاعرانو په کومو دیوانونو کي چاپ شوي دي او که نه دی توانیدلی، نو ویلي یې دي چې ما د دې شعر یا دې بیت شاعر او مآخذ و نه شو موندلای چې دا خپله یو لوی علمي کار دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د خوشحال په دستار نامه کې د فارسي کلام په باب زما یوه وړه خاطره:

د شپیتمې لسیزې د پیل په کلونو کې استاد زلمی هیوادمل پوهنتون ته د دې له پاره ډیر راته چې کوم سیمینار جوړیدونکی و او د لوړو زدکړو په چاپخونه کې یې ځینې کتابونه چاپول. یوه ورځ یې له ما نه هیله وکړه چې زه خپل یو همکار استاد پوهاند سرور همایون ته چې د ادبیاتو پوهنځي د دري ځانګې د متنپوهنې استاد و، و وایم چې د خوشحال په دستار نامه کې د راوړل شوو فارسي بیتونو په باب د یوې مقالې په چوکاټ کې څیړنه وکړي. دا کار ما وکړ، خو پوهاند سرور همایون و نه منله او په ډیر درناوي یې ما ته و ویل چې دا کار دروند کار دی، ډیرې حوصلې او ډیر وخت ته اړتیا لري.

اوس دا دی دا کار شول دی او دا دروند پیټی استاد معصوم هوتک جګ کړ دا ِغوټه یې په علمي ډول وسپړله او هیله ده چې پاتې پنځلس سلنه به یې نور څیړونکي تر سره کړي.
که څوک غواړي چې په تفصیل سره پوه شي چې د خوشحال په دستار نامه کې کوم فارسي بیتونه د چا دي، په لاندې لینک کې دې د استاد هوتک لیکلی کتاب ولولي:

http://hotakonline.com/uploads/Kitaboona/Dastarnama-Farsi-Kalam.pdf

نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ